پـه افغانستان کې د ملګرو
ملتونو مرستندویه پلاوی

**مطبوعاتي اعلامیه**

۱۶ فبروري ۲۰۲۵
لا ډیرو معلوماتو لپاره دغه بریښنالیک ته ایمیل وکړئ: spokesperson-UNAMA@un.org

## یوناما د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې او خصوصي سکټور په اړه د کاري ډلې غونډې جوړې کړې.

**کابل** – د افغانستان د خصوصي سکټور د ملاتړ او د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه د کاري ډلو غونډې، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوی پلاوي (UNAMA) له خوا جوړې شوې وې، د فبرورۍ په ۱۲ او ۱۳مه نېټه په آنلاین بڼه ترسره شوې.

دغه کاري ډلې، چې د ۲۰۲۴ کال د جون له ۳۰ څخه د جولای تر ۱ پورې د قطر په دوحې کې د ځانګړو استازو د درېیمې غونډې د مواردو د تعقیب په موخه رامینځته او د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د وړاندې شویو خپلواکو ارزونو راپور (S/2023/856) د سپارښتنو سره سمې جوړې شوې، د افغانستان له واکمنو چارواکو سره د یو منظم، همغږې او جوړښتي تعامل یوه برخه ده، چې د افغان ولس د ګټې لپاره کار کوي.

په دې کاري ډله کې د غړو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو استازې، د افغانستان د واکمنو چارواکو استازې، د ښځو په ګډون د برخو اړوند کارپوهان، د ملګرو ملتونو اداري، صندوقونه او پروګرامونه، او نړیوالې مالي مؤسسې راټولې شوې دي.

د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د کاري ډلې لومړۍ غونډه د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۲۸مه ترسره شوه. د دغې ډلې دویمه غونډه د فبرورۍ په ۱۲مه ترسره شوه چې پکې د هغو کروندګرو لپاره د دوامداره بدیل معیشت په لارو د ګډې کړنلارې او پانګونې پر پلان بحث ترسره شو چې د افغانستان د واکمنو چارواکو لخوا د تریاکو د کرکېلې د بندیز له امله اغېزمن شوي دي.

د خصوصي سکټور د کاري ډلې پرانیست غونډه چې د فبرورۍ په ۱۳مه ترسره شوه، د نړیوالې ټولنې، د افغانستان واکمنو چارواکو او خصوصي سکټور د مهمو هڅو پر بنسټ ولاړه ده. په دغې غونډه کې د افغانستان د خصوصي سکټور د پراختیا لپاره د یوې هر اړخیزې تګلارې پر اړتیا بحث وشو، په دغو خبرو اترو کې شته ستونزې په ګوته شوې په ځانګړې توګه هغه ستونزې چې د ښځو په مشرۍ کاروبارونه ورسره مخامخ دي. د غونډې ګډونوالو د رڼې او ځواب ویونکې مالي او سوداګریزې حکومتولۍ لپاره د عملي ګامونو پر اړتیا هم ټینګار وکړ، ترڅو په افغانستان کې د سوداګرو ترمنځ د باور فضا رامینځته شي.

پای

* * *